استقلال خپلواکی
خبر و تبصره

منبع خبر: بی بی سی ۲۷ نوامبر، ۲۰۲۶

د طالبانو حکومت وایي ډېر ژر به د امو سیند اوبه د قوش‌تېپې کانال ته ورخوشې شي

د طالبانو په حکومت کې د ملي پراختیا شرکت اعلان کړی چې "د قوش‌تېپې ستر او ملي کانال د جوړولو چاري وروستي پړاو ته رسېدلي او تاکل شوي ده، چې په نړۍ راتلونکي کې د آمو سیند اوبه د دغه کانال سربند ته راخوشې شي.

د طالبانو حکومت چارواکي وایي د دغه کانال د دویم فاز د کېندنې چاري ۹۹ سلنه بشپړې شوې او د پلونو، بندونو او د اوبو د کنټرول تاسیساتو چاري هم د بشپړېدو په حال کې دي.



د ۲۸۵ کیلومتره په اوږدوالي دا کانال له امو سینده بلخ، جوزجان او فاریاب ولایتونو ته د اوبو لېږد لپاره جوړېږي.

اوس د طالبانو حکومت بشپړېدو ته د دویم فاز چارو له نږدې کېدو سره هممهاله پرېکړه کړې چې دغه کانال ته اوبه ورپرېږدي.

خو یو شمېر متخصصان اندېښنه لري چې د اوبو بهیر ښایي د کرنیزو ځمکو د مالګینېدو لامل شي.

امو سیند د افغانستان له دوو شمالي ګاونډیو، تاجیکستان او ازبکستان، سره په پوله کې بهېږي او دغه کانال ته تري د اوبو راجلا کولو پرېکړې د غو هېوادونو اندېښنې راپارولې دي. خو د طالبانو حکومت وایي، دغه کار ګاونډیو ته کومه ستونزه نه پېښوي.

د افغانستان د ملي پراختیا شرکت په وینا، دا کانال به په تولیز ډول له نیم میلیون هکټاره ډېره شاړه ځمکه خړوبه کړي.

نوع محتوا: فقره

ساخته شده در ۲۶/۱۱/۲۰۲۶ ۲۲:۳۹ توسطNews NM. Admin

آخرین اصلاح در ۲۶/۱۱/۲۰۲۶ ۲۲:۳۹ توسطNews NM. Admin